# د چرسي زوی (ناول)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال: نعمت الله رحيمي

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



............کتاب پېژندنه:.........................................................................................

د کتاب نوم: **د چرسي زوی (ناول)**

لیکوال: **نعمت الله رحیمي**

اړیکه: **Niamatullahr3@gmail.com**

کمپوز: **خپله لیکوال**

د خپریدو کال: **2021 زېږدیز ـ ۱۳۹۹لمریز کال**

..........................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰۷ م کال قندهار

نرۍ نرۍ باران وربېدلو، سړی د چرسو پهٔ نشه کې غرق و ، ګډوډې يې ويلې د دروازې ټک شو ځوان بې له سلامه کورته دننه شو سړي غږ کړ:

- د سپي زويه! دروازه د ولې خلاصه پرېښوه؟
- پريږده چې پاکه هوا راشي ټول کور د چرسو بوی نيولی ده

سړی څو شيبې چُپ و، لنډه شيبه وروسته يې غږ کړ:

- وه عبدالله، دلته راشه

ځوان ور روان شولو د کور دروازه خلاصه وه باران نور هم زور ومندلو، سړي وويل:

- رډ رډ مه را ګوره لاس مې ونيسه برنډې ته ځم

بې له څه ويلو يې خپل پلار له لاس ونيولو د برنډې پر خنډه يې کينولو ترې روان شو، سړي چغه کړه:

- صبرشه! څه درته وايم
- ووايه! دادا
- ته خو کينه

هلک کيناست، سړي ترخه مُسکا وکړه پهٔ مړه لهجه يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مينه د چرسو د لومړۍ نشې په څېر ده، دويم ځل د حتماً زړه ورته کيږي، خو! که د وکړه تر مرگه يې نشې پرېښودی.

هلک چُپ و، د دروازې خواته څير و، لنډه شيبه وروسته، له دروازې يوې جلۍ سر رابښکاره کړ، ټيکری يې په غاړه کې اچولی وو، زلفې يې لمدې وې نظر يې د عبدالله خواته شو غږ يې کړ:
- ځوانه !

پلار يې ور وکتل يو دم يې وويل:
- مه ورځه! کوپار دي
ځوان نظر ترې غلا کړ اسمان ته يې کتل چې جلۍ بيا غږ کړ
- مرستې ته اړتيا لرم

ځوان ور روان شو د پلار خبر يې وانه ورېدله دروازې ته نږدې ور ودريدلو، شيبه وروسته دوه گامه شاته شو ويې ويل:
- څه دي؟
- ستا نوم څه دی؟
- ستونزه څه ده؟ نوم مې څه کوې؟
- وبښه غوصه کيږه مه، زه له امريکا د ډاکومېنټري فلم جوړولو لپاره راغلې يم، موټر مې ستاسو د کور دروازه کې خراب شو او دلته نور هيڅوک نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښاااا! ته نو په ريښتيا کاپره يې
- نه نه زه مسلمانه يم اوسيږم هلته
ځوان په غوصه وويل:
- نو ټيکری د په سر کړه

جلۍ په تيزۍ ټيکری تر سره تاو کړ، عبدالله د موټر خوا ور روان شو جلۍ وويل:
- زما نوم سارا دی
- نو زه څه وکم؟
جلۍ غلې شوه، څو گامه شاته ولاړه د کور د دروازې څنډې ته ودرېدله، د موټرسايکل غږ شو يو کس پرې سپور ؤ عبدالله ته يې وويل:

- ته څه کوې؟ کورته دننه شه کلي ته ترهگر راغلي په يوه فېرنگۍ پسې گرځي، کورونه تالاشي کوي

موټرسايکل حرکت وکړ خو کس سارا ونه ليده، عبدالله منډه کړه او جلۍ يې له متې ونيوله او کورته يې دننه کړه.

جلۍ په غوصه وويل:
- څه کوې؟ خوگ د کړم
- چُپ شه! موږ به هم په غم واړوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو ولې؟
- تاپسې ترهګر ګرځي همدلته اوسه

د جلۍ رنګ زېړ واوښت، ورو يې وويل:
- اوس بهٔ څه کيږي؟
- همدلته اوسه زه دومره بې غيرته نهٔ يم چې ور خوشي د کړم

د جلۍ سترګې له اوښکو ډکې شوې، روانه شوه...

د مازديګر وخت کېدو جلۍ د خونې پهٔ يو څنډه کې ناسته وه، راډيو غږېده، هلک لستونې بډې وهلې وو راغی جاينماز يې را واخيست پر ځمکه يې خور کړ، لمونځ يې خلاص سلام يې وګرځولو سارا ورته کتل د عبدالله پرې نظر شو، سارا بانه له يو بل سره وروستل مخ يې بل خوا کړ، عبدالله وويل:
- پاڅه، راځه!
- چيرته؟
- لمونځ نهٔ کوې؟

سارا غلې وه، عبدالله وويل:
- ونه وايې چې لمونځ مې ندی زده
- نه! زده مې دی خو اودس...

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله د خبرو مینځ کې ور ولوېد ویې ویل:
- هلته تشناب دی، هوا سړه ده ګرمې اوبه مې درته پریښې ورشه اودس وکړه

لنډه شیبه وروسته سارا پاځېده اودس او لمونځ یې وکړ پر جاینماز ناسته وه، سترګې یې لهٔ اوښکو ډکې وې چې څه بهٔ کیږي چې د عبدالله د پلار غږ یې واورېدلو ویل یې:

- دا دروغ دي چې له معشوقې بغیر څوک مري، خو! خو مري هم، نه! نهٔ مري واده هم کوي خو نهٔ به مېرمن ترې راضي شي نه به یې اولاد د پلار مینه وګوري.

عبدالله خونې ته دننه راغی، سارا وویل:
- نوم دې راته نهٔ وایې؟
- وایم یې! عبدالله دی.
- عبدالله پلار دې ولې داسې بل ډول خبرې کوي؟
عبدالله غلی شو له شیبې چوپتیا وروسته یې وویل:
- اول مئین ؤ، اوس چرسي دی نشه چې وکړي همداسې خبرې کوي، چې پهٔ هوښ وي ماته د مینې نهٔ کولو نصیحت کوي
- او مور دې؟
- مور نشته، زما پیدایښت ترې ژوند واخیست

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارا هېڅ ونهٔ ویل همداسې ناسته وه، باران دریدلی و، د ناوو شړنگهار ختلو...

تیاره خوره شوه، عبدالله د باندې و، د غوا وابنه یې ټکول، غوا ته یې وابنه واچول، غوا وتړبیده عبدالله څو گامه شاته شو، لنډه شیبه وروسته روان شو پخلنځي ته دننه شو، له خاورین لوښي یې پهٔ دیگ کې چکه واچوله پر نغري یې کېښودلو، ډوډۍ یې وړه کړه پاخه شوي کورت یې پرې واچولو، لاټېن یې روښانه کړه او کاسه پهٔ لاس کې، روان شو...

خونې ته دننه شو، غږ یې کړه:

- اې راځه ډوډۍ تیاره ده

- څه؟

- ډوډۍ نه خورې؟

- نه زه ډاېټینگ کوم د شپې ډوډۍ نهٔ خورم

- ډاېټېن هغه چیشی وي؟ ښه پرېږده یې بلا مې درپسې ، مې خوره!

شپه پخېده، د خوب وخت شو عبدالله بړستن پهٔ تخرگ کې نیولې وه ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه پر بام ویده کېدم، اغه دی ستا د خوب ځای همدلته ویده شه
- مننه

عبدالله روان شو، بام ته وختو، د خوب ځای یې ځانته جوړ کړ، یخ شمال ؤ، بړستن یې پرځان کش کړه او د واره ویده شو...

سهار شو، اسمان ځای ځای وریځ ؤ، اودس او لمونځ یې وکړ، له باندې یې د خوني ښیښه ټک ټک کړه غږ یې کړ:
- ویښه شه لمونځ وکړه له ځانه پهٔ ریښتیا کاپره مه جوړوه

سارا ویښه نهٔ شوه عبدالله بام ته پهٔ ختو شو له ځانه سره یې وویل:
- بلا مې درپسې، ما خپله غاړه خلاصه کړه

عبدالله پر بام پروت و ، د غرونو څوکې زیړې ښکارېدې لمر را وخوت، له بام ښکته شو سارا له خوبه پاڅېدلې وه د انګړ په مېنځ کې ناسته وه او له اوبو ډک ستل ته یې شګې غورځولې عبدالله پهٔ غوصه وویل:
- دا اوبه ستا پلار بیا راوړي؟
سارا غلې شوه عبدالله روان شو لنډه شیبه وروسته یې ور غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اوبه به زه درته راوړم، خو پلار ته مې مه رسه، مړ دی.

عبدالله تک سور شو، همداسې روان شو د سهار چای تیار شو د عبدالله او پلار ناست وو پلار یې وویل:
- هغه فېرنګۍ چای نهٔ څکي، ور غبږ کړه اوس خو د پهٔ غم اړولي یو
- نه هغه ډایټېن کوي
پلار یې ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:
- ورشه ورشه ور غږ کړه

عبدالله د باندې ووت ور غږ یې کړ:
- راځه چای وڅښه

سارا شګې له لاس وغورځولې ور روانه شوه، د دسترخوان نه لرې کیناسته د عبدالله پلار وویل:
- نږدې کینه اوس یې تر خولې نهٔ شو در رسولی

سارا د شیدو پیاله پورته کړه او لرې کیناسته، عبدالله وویل:
- یو څه خو وخوره
- زه کوچ نهٔ خورم هغه لوړه کالوري لري
- دادا! ما خو وویل چې دا ډایټېن کوي
- ډایټېن نه ډایتینګ
- همغه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سهار چای يې وخوړ نهه بجې کیدونکې وې، عبدالله خره له کوره وباسله وابنو پسې فصل ته ولاړ پر لاره روان وو د جومات د لاوډسپیکر کرکر وخوت یو غږ شو:

- وتهولو مسلمانانو ته خبر ورکول کیږي چې موږ په یوه کاپره پسې ګرځو د هرچا کور کې چې پیدا سوه، دواړه به را ځوړند کړو

له اوریدو سره سم عبدالله خره بېرته کورته روانه کړه په بیړه کورته دننه شو، غږ يې کړ:

- فېرنګۍ! راووځه

سارا منډه کړه ویې ویل:

- څه شوي؟

- راځه چې ځو ګني دواړه به ووژني

سارا حیرانه ولاړه وه، عبدالله وارخطا وو سارا يې ترلاس ونیوله او روان شو پلار يې ور غږ کړ:

- ته هم کاپر شوې چېرې ځې؟

عبدالله وويل:

- ځانته پام کوه دادا زه به ژوندی راشم یا نه خدای پوهیږي

همداسې له دروازې ووتل سارا یو دم ودریدله، ویې ویل:

- موټر کې زما بیک ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ورشه ژر را واخله

بیک یې له موټر را واخیست درونډ وو زور یې نه پرې رسیدلو، عبدالله ترې واخیست ورو یې وویل:
- راکه! مزدور خو دې شته دی.

له کلي ووتل پر لوی لاره دریدلي وو عبدالله وویل:
- دلته به دې یو موټر کې کېنوم او ورځه کابل ته
د سارا اوښکې پر مخ رواني شوې:
- اوس څه شوي؟
- زه ویریږم نشم تللی یواځې

عبدالله غلی شو څو شیبې وروسته یو موټر له لرې تر سترګو کېدو سرک تش وو، عبدالله ورته لاس وخوځولو، موټر ودرېدلو موټروان وویل:
- و چیرې ځئ؟
- تر کابله ځو
- زه تر غزنې ځم که ځئ نو را پورته سئ

عبدالله موټر ته بیک ور خطا کړ سارا یې څټ ته سېټ کې کېنوله دی مخې ته کیناستلو موټر روان شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ډېر ورو ورو روان وو، ټایپ کې هندي سندره چالانه وه عبدالله شاته وکتل سارا سندرې ته سر خوځولو یو دم یې وویل:
- دا چیش شول، سمه پښتو ور واچوه

موټروان له ټایپ کسېټه راوباسله عبدالله ته یې ورکړه ویې ویل:
- آغه قلم دی راوخله پکې را تاو یې کړه چې سر شي، پښتو سندرې راځي

عبدالله پرې لګیا شو کسېټه یې سر کړله موټروان ته یې ورکړه، موټروان ټایپ ته ور واچوله د وړمې دا سندره چالانه شوه:

سترګې تماچې دي زما شونډې مې لالونه دي
بل مې اشنا ګوره پهٔ غونډۍ زنه خالونه دي

عبدالله ډېر ورته خوشحاله شو غړ به یې لا پسې جګ کړ، سارا به له ځانه سره پهٔ خندا شول ځانه یې سره یې ویل:
- هاهاها، دا څه انتیکه سندره ده

لارې خرابې وې موټر ورو تللو شپه شوه، سارا ویده شوې پهٔ عبدالله هم خوب غلبه کړې وه چې موټر ودرېدلو موټروان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دلته مو ډوډۍ وخورئ شپې ته اوږد سفر لرو

موټروان ښکته شو، عبدالله شاته وکتل سارا په کلک خوب ویده وه، له ځانه سره یې وویل:

- معصومه ده!

غږ یې پرې وکړ:

- سارا!

سارا له خوب پاڅېده او حیرانه وه چې پخپل نوم یې غږ پرې وکړ ویې ویل:

- هو

- څه درته راوړم څه خورې؟

- هرڅه راوړې خورم یې

عبدالله هم حیران شو له موټر ښکته شو ځان سره یې ویل:

- فیرنګۍ ډایټن پرېښود

عبدالله بیرته د موټر خو را روان شو له ځان سره یې قابلي پلو له هوټل راخیستی وو موټر ته پورته شو سارا ته یې ورکړ ویې ویل:

- وخوره وخوره! پولاو دی

سارا مُسکۍ شوه او په خوړلو یې پیل وکړ، شیبه وروسته سارا توخې پیل کړ عبدالله اوبه ورکړې خو هغسې وه ژر له موټر ښکته شو او د څټ دروازه یې خلاصه کړه سارا ته یې په شا څو واره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل د سارا ټوخی او سلګۍ ودرېدې خو سترګې یې لهٔ اوښکو ډکې وې، عبدالله تک ژېړ شو ویې ویل:

- لکه چې خوګ مې کړې؟

سارا له شیبې چوپتیا وروسته وویل:

- نه لږ احساساتي شوم ځکه مور مې هم دومره پام راباندې نه ؤ کړی

عبدالله خوښ شو سینه یې پراخه ونیوله ویې ویل:

- مورږ د میلمه قدر کوو

ګړۍ وروسته موټروان راغی، موټر روان شو عبدالله او سارا دواړه ویده شوي وو...

نوی سهار کیدونکی وو، رڼا بیا د ځمکې پر غیږ کې پرته وه، عبدالله را ویښ شو موټروان وویل:

- ویښ شوې ځوانه

- امم! هو چیرته یو؟

- بس دا دی غزني ته ورسیدلو د ښار مینځ وو تر لږې څوک نهٔ ښکارېدل عبدالله پهٔ سارا غږ وکړ

- ویښه شه، را ورسیدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارا وینښه شوه، له موټر ښکته شول ټیکری یې بیا پهٔ غاړه کې اچولی ؤ، عبدالله موټروان ته وویل:

- دا کوم ځای دی؟

- دې ځای ته روضه وایي آغه د کابل سړک دی

- خیریوسې! څو روپۍ شوې؟

- څه ځوانه! زما همسفر پهٔ کار ؤ، نهٔ پیسې

عبدالله بیا ترې مننه وکړه موټر بیرته وګرځېد ولاړ...

د لویې لارې پر سر ولاړ وو، عبدالله ښادر خور کړ کیناست، پورته یې وکتل ویې ویل:

- تا بیا ټیکری له سر لرې کړی؟

سارا ژر ژر ټیکری پهٔ سر کړ څه یې ونه ویل، د لمر پهٔ وړانګو د سارا زیړ وینښتانو ځلېدل، د ښار لهٔ خوا یو موټر را روان ؤ، عبدالله پاڅېدو، ښادر یې ځنډ وهلو موټر را نږدې شو، ودرېدو عبدالله وویل:

- وستازه! کابل ته ځو

- کابل ته خو نهٔ ځم خو تر یو ځای چې ځم راسره ولاړ شئ، را پورته شئ

عبدالله او سارا موټر ته پورته شول، د غرونو پهٔ مینځ کې د موټر تور دود پورته کېدو، ورو ورو موټر له غرونو پناه شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان عبدالله او سارا ته کتل لنډه شيبه وروسته يې وويل:
- خپه نسې وروره، خو ميرمنه دې فيرنګۍ ښکاري

عبدالله څه ونه ويل سارا موټروان ته رډ رډ وکتل ويې ويل:
- زه دې ده ميرمنه نهٔ يم

د بريک ټسس شو موټر ودرېدو موټروان وويل:
- ښکته سئ، کوپارو! ما به پهٔ غم واړوئ

عبدالله او سارا له موټر ښکته شول، موټروان له ورپسې د سارا بيک ور وغورځولو ويې ويل:
- درواخلئ! د کوپر زامنو

د لارې پهٔ څنډو کې ځای ځای د چنارو ونې ولاړې وې، عبدالله د سارا بيک پهٔ شا کړئ وو سارا ته يې کتل پهٔ غوصه يې وويل:
- ډېره بې عقله يې، ډېره!
- ولې نو ما څه غلط خو ونه ويل؟
- غلط او سيي پسې به نهٔ ګرځېدې پهٔ تش ويلو زما ميرمنه نهٔ کيدې

سارا څه ونه ويل، عبدالله پهٔ خندا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هاها، زه هسې فیرنګۍ سره واده نهٔ کوم

سارا پهٔ غوصه وویل:
- ته ولې نهٔ پوهیږې زه فیرنګۍ نهٔ یم ستړې شوم نور لهٔ دې خبرو زه هلته ژوند کوم یم د همدې وطن

د عبدالله رنګ زیړ واوښت، غلی پر لار روان ؤ

د غرمې وخت کېدو هغسې پر لاره روان وو، سارا ودرېده ویې ویل:
- نه! نور نشم تللی

عبدالله خپل څادر د لارې څنګ ته پټې په پوله را خور کړ ویې ویل:
- راشه کینه دمه د جوړه کړه

سارا وویل:
- خو زه وږې هم یم
- ته خو ډاېټېن کوې څنګه وږې یې؟
- ډایټینګ ډاېټېن نه خو داسې هم نده چې وږې کیږم بهٔ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله ولاړ په پټي کې د منو یوه دنګه ونه ولاړه وه، عبدالله لاس ور پورته کړ نهٔ ور رسیدو، ونې ته وختولو د خپل واسکټ جېب کې یې ۴ منې واچولې پښه یې وښوییده درز شو را ولویدو، کس چغه کړه:

- اې د اغه زامنو

عبدالله منډه کړه سارا یې تر لاس ونیوله او له پټي ډېر لرې ولاړ...

لږ وروسته ودرېدل عبدالله له خپل جیب منې راوباسلې سارا ته یې ورکړې سارا پهٔ خندا شوه

عبدالله وویل:

- څه شوي؟ ښه مکوه بد نشته

سارا هغسې خندل پهٔ خندا خندا کې یې وویل:

- ته چې له ونې را ولویدې ډېر جالبه وه

عبدالله ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:

- ښه ژر ژر وخوره چې ورسیږو دا لاره تېوله له ترهګرو ډکه ده

سارا یو منه وخوړله پاځېدله او روان شول، لږ وروسته پر لاره د سړک څنډې ته روان وو مخکې د اوبو غږ اوریدل کېدو، چینه وه د پاسه یې شنه پټي وو سارا ودریدله عبدالله ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته راکړه زما بیک
- څه؟ څه یې کوې؟
- ته خو یې راکړه

عبدالله بیک ورکړ سارا د بیک له مینځ خپله کېمره را وباسله عبدالله ته یې وویل:
- ودرېږه چې عکس د وباسم
عبدالله مُسک شو ویې ویل:
- زه شرمېږم
- ودرېږه جلۍ خو نهٔ یې چې شرمېږې

سارا د عبدالله څو عکسونه وباسل عبدالله ته یې وویل:
- دلته راشه
- څه څه وشول
- دا وینې؟
- هو
- دغه ټنۍ ته شتېر وایي زه هلته درېږم پهٔ دې دوربین کې یې وګوره بیا بهٔ دا ټنۍ کېکاږې

عبدالله کېمره لاس کې واخیسته سارا ورته مخامخ دریدلې وه د زلفې یې شمال پر مخ پټېم جوړ کړی وو، عبدالله ټنۍ کېکاږله د شتېر ټق شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارا راغله عکس يې وکتلو عبدالله ته يې په مُسکا وويل:
- وګوره! فوټوګرافر شوې
- څه؟ هغه چيش وي؟
- هغه پښتو کې ورته څه وايي اممم! انځورګر

عبدالله وخندل او ويې ويل:
- ځه نو چې ځو چې په لاره مو شپه نهٔ شي

د سارا زړه په عبدالله ډاډه ؤ، د خوشالۍ ټوپونه يې وهل...

وخت په تېريدو ؤ، لمر د غرونو تر څټ پناه شو، پر لاره د شنو فصلونو مزل ختم شو، مخکې سپيره دښته وه، عبدالله وويل:
- شپه به دلته تيره کړو، که مخکې کوم کلی راشي، سبا له دې ځای شايد موټر پيدا شي

هغسې روان وو، تر کيلومټرونو کوم کلی نهٔ ليدل کېدو، د سړک په څينو څنډو د شهيدانو قبرونه تر سترګو کيدل، مخکې د يو کوچني غره پر سر د اور سرې لمبې ختې، سارا وويل:
- عبدالله
- هو
- هغه ګوره، د غره پر سر کور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو اوس مې پام شو راځه ورشو کې د شپې ځای راکړي
- راځه

ور روان شول، سارا وویل:
- زه خو دلته نشم ختلی

عبدالله پهٔ عاجزه خوله وویل:
- نو لاس د راکړه

سارا د عبدالله لاس نیولی وو، عبدالله هغسې روان وو شاته یې نهٔ کتل، سارا له ځانه سره وویل:
- کهٔ ټول عمر مې داسې لهٔ لاس ونیسې څه به وشي؟
عبدالله واوریدل خو نا ګمانه یې وپوښتل:
- څه دې وویل؟
- نه نه هسې مې ځان سره سندره ویله
- هو پرون مې د فرینګیانو سندرې واوریدې

غره ته وختل کورته نږدې شول، بوډې له څاه اوبه راباسلې عبدالله ور منډه کړه، د څاه پړی یې ترې واخیست اوبه یې را وباسلې، بوډۍ وویل:
- تاسو څوک یاست پهٔ دې شپه کې دلته څه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارا وویل:

- تروري دی زما خاوند دی موږ کابل ته ځو راباندې شپه شوه د یوې شپې ځای راکوئ؟

بوډۍ په مُسکا وویل:

- چې ستا خاوند دی زما زوی دی، هرکله راشئ

کورته دننه شول سپین ږیري شړۍ په ځان خوره کړې وه ویې ویل:

- ستړي مشئ، ستړي مشئ، حمیدې دوی څوک دي؟

بوډۍ ورته کیسه وکړه، سپین ږیری خوښ شو، شیبه وروسته یې عبدالله ته کړل:

- زویه! په مئینتوب مو واده کړی؟

عبدالله له یوې درواغنجې مُسکا وروسته وویل:

- نه، پلار مې ویل:

- مینه د چرسو د لومړۍ نشې په څېر ده، دویم ځل د حتماً زړه ورته کیږي، خو! که د وکړه تر مرګ یې نشې پریښودی

یو دم سارا وویل:

- ضرور نه ده په وچو کې لامده وسوځوو، مینه ښه ده، بس!

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله او سپین ږیری دواړه غلي شول، بوډۍ راغله ویې ویل:
- راځئ ډوډۍ تیاره ده، پیرکي مې پاخه کړي، زما د سړي ډېر خوښ دي، ستاسو هم پکې قسمت و.

ډوډۍ یې وخوړله، عبدالله وویل:
- تروري کهٔ نهٔ پهٔ زحمت کیږې، موږ به ویده شو سبا باید وختي لاړ شو

بوډۍ ولاړه ترڅو د خوب ځای تیار کړي، عبدالله له بوډا سره په کیسه بوخت وو، بوډا وویل:
- پلار د مینه کې دوکه خوړلې وه؟
- نهٔ پوهیږم، خو ماته وایي مینه مه کوه

بوډا غلی شو شیبه وروسته یې وویل:
- اَلْفِراقُ اَشَدُّ مِنَ الْمَوتِ
- څه؟
- جدایي له مرګه سخته ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ راغله سارا او عبدالله یې بلې خونې ته وبلل، خونې ته دننه شوله بوډۍ ولاړه، عبدالله وویل:

- سترې يو هسې نه تر ناوخته ويده پاتې شو

سارا غلې وه لنډه شيبه وروسته يې بيک ته لاس کړ يو څه يې را واخيستل، چالان يې کړ، رڼا يې د سارا پهٔ سترګو کې څرک وهلو عبدالله د واره وويل:

- سارا! دا څه دي؟

- دا آلارم دی

- هغه څه وي؟

- دا به مو سهار وختي راويښ کړي

- واه! ته خو ډېره تکړه يې

سارا مُسکۍ شوه، عبدالله پهٔ تياره کې ورته کتل د سترګو سپين يې کره ښکارېدل، شپه پخه شوه دواړه ويده شول...

سهار شو د چرګانو بانګونه تر غوږ کيدل، څو شيبې وروسته د آلارم شړنګهار پيل شو، سارا سترګې پرانيستې غږ يې کړ:

- عبدالله! ويښ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله ویښ نهٔ شو سارا پهٔ بیک کې خپل سامان ټولولو له ځانه سره یې ویل:

- کاش چې هره ورځ ما پر تا غږ کولای

عبدالله ویښ شو له خپل ځای پاڅېدلو د دروازې غږونو بوډۍ له خوبه ویښه کړله، سارا او عبدالله د باندې ووتل بوډۍ راغله ویې ویل:
- زویه! ډېر وختي روان شوئ، خو مخه مو نهٔ نیسم، ځئ الله مو مل شه

ورو ورو روان شول، له غره ښکته پر سړک یو موټر روان وو عبدالله وویل:
- ژر راځه چې وروسته بیا موټر نهٔ پیدا کیږي

سارا پهٔ وارخطایۍ وویل:
- صبر وکړه زه تاته یو څه وایم
- د صبر وخت نهٔ دی، ژر راځه بیا به ووایې

پهٔ منډه روان وو، سړک ته ورسیدل د سړک سره ودریدل سارا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اوس ووایم؟

عبدالله په غوصه وویل:

- ووایه! داسې څه وایې؟

- له ماسره ځې؟

- خو دا دی روان یم درسره

- نه داسې نه

- نو څه رقم پهٔ هوا؟

- امریکا ته

عبدالله له شیبې وروسته وویل:

- خیریت خو دی؟ ماهم فېرنګی جوړوې؟

سارا غلې شوه څو شیبې وروسته یې وویل:

- ترڅو دلته وو، زه کوچنۍ وم امریکا ته له تګ وروسته مې پلار له لاسه ورکړ، مور مې د هغې غم په سر واخیسته زه له دواړو طرفو یتیمه شوم، چا هم راته پام نده کړی، ته یو پردی یې زه دې د خپل پهٔ خېر تردې ځای راوستلم، پرما د پام وکړ کهٔ داسې ټول عمر راسره وې څه کفر به وشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله چُپ وو، لنډه شيبه وروسته يې وويل:

- زما سر خلاص نهٔ شو تا څه وويل؟

سارا پهٔ غوصه وويل:

- زه دربانديې مئينه شوې يم، مينه درسره لرم

د عبدالله رنګ تک سور شو هيڅ يې ونهٔ ويل، له لرې يو موټر ښکاريدو عبدالله موټر ته پهٔ لاس اشاره وکړه، موټر ودريدلو ډاټسن موټر وو مخکې له ميوې ډک ؤ، دواړه شاته باډۍ ته پورته شول...

يو بل ته يې کتل خو ويلو ته هيڅ نهٔ وو، څو شيبې وروسته موټر ودريدلو عبدالله شاته وکتل يو چغه شوه:

- ولې يې هماغه کاپره ده

عبدالله سارا له لاس ونيوله له موټر يې ټوپ کړ، منډې يې کړې د ډزو ترهګرو د ماشينګنو خولې د دوی خوا ته سيخې کړې ټق شو عبدالله پهٔ مټه ولګيد تر يو ځای ورسيدل د يوې تيږې شاته کيناستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سارا خپل لوپټه څیرې کړه د عبدالله ټپ یې وتړلو او په ژړغوني غږ یې وویل:

- ټپ دې ژور نهٔ دی، مرمۍ یې تر څنګ تیره شوې ژر به روغ شي

څو شیبې ووتلې سارا ژړل، د عبدالله سترګې ډکې شوې لنډه شیبه وروسته یې وویل:

- پوهیږې؟ زما لپاره تراوسه چا نهٔ دي ژړلي

څو شیبې چُپ ؤ بیا یې وویل:

- د چرسي زوی مئین شو

سارا مُسکۍ شوه ویې ویل:

- نو راسره ځې؟
- هو ځم درسره خو پلار مې...
- اوس یو ځل لاړ شو بیا بیرته د تل لپاره راځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله غلی شو څه يې ونهٔ ويل، ګړۍ وروسته د لويې لارې پهٔ طرف روان شول، يو موټر پيدا شو ور پورته شول، موټر روان شو، سارا د عبدالله پر اوږه سر کېښود عبدالله ترخه مُسکا وکړه ويې ويل:

- فيرنګۍ! مينه درسره لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**